ډیره اسماعیل خان۔ د تي تي پي دوه نور ترهګر ووژل شول

د ډیره اسماعیل خان په درابن سیمه کې د استخباراتي معلوماتو پر اساس د امنیتي ځواکونو یو بل بریالي عملیات، دوه مطلوب ترهګر وژل شوي دي۔

تفصیلاتو له مخې، امنیتي ځواکونو د پټو معلوماتو پر اساس د ترهګرو د تګ راتګ په لاره کمین وهلې او په ګهیرا کي د اخیستو نه وروستو د ډزو په تبادله کي په بهته خوریی او په ترهګریز بریدونو کي ککړ مطلوب دوا تنه ترهګر رضوان او عرفان وژل شوي دي۔

د امنیتي ادارو پرله پسې بریالي عملیات ددې ثبوت دی چې ځایي خلک امنیتي ادارو ته د ترهګرو د تګ راتګ په اړه خبر ورکوي چې له امله یې د ترهګرو له منځه وړل ممکن دي۔